شنبه ۰۷ صفر، ۱۴۴۴هـ    ۲۰۲۲/۰۹/۰۳م    گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۴/۰۳

مطبوعاتي اعلاميه

## د مولوي صاحب انصاري شهادت د مرموزو استخباراتي وژنو دوام دی!

د هرات د گزرگاه جومات د چاودنې په پایله کې د دغه جومات خطیب مولوي صاحب انصاري د ۱۷ تنو په گډون په شهادت ورسېد او لسگونه تنه نور پکې ټپیان شول. د حزب التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر دا وحشیانه برید او ترور د ټولو انساني او شرعي موازینو خلاف بولي او په سختو ټکو یې غندي. الله تعالی دې د شهیدانو شهادت قبول کړي، ټپیانو ته دې عاجله شفا او د هغوی خپلوانو ته دې جمیل صبر او لوی اجر ورپه برخه کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې موږ د دغه امت د علماوو، متنفذینو او مخورو د ترور شاهدان یو، په ځانگړي ډول په وروستیو شلو کلونو کې چې افغانستان د اشغال او استعمار تر ولکې لاندې و، د علماوو او متنفذینو ځنځیري او هدفي وژنو په شدت سره دوام درلود، اشغالگرو او د هغوی استخباراتي کړیو په دې خاوره کې ډېرې مرموزې وژنې وکړې، ترڅو هغه کسان چې په خلکو کې هویت او محبوبیت لري او هغه کسان چې د اشغالگرو د پلانونو او دسیسو پر وړاندې خنډ کېږي، په یو ډول نه یو ډول منزوي کړي، شخصیت یې ترور او یا یې په شهادت ورسوي، چې د مولوي صاحب انصاري شهادت د همدغو استخباراتي فعالیتونو دوام دی.

اشغال په افغانستان کې ماتې وخوړه، خو اشغالگران ارام نه دي ناست. د اسلام دښمنان له مختلفو اسالیبو څخه په استفادې غواړي چې د اسلامي ارزښتونو، حاکم نظام، او د دې خاورې د علماوو او متنفذینو پر وړاندې بې دریغه بریدونه وکړي، ترڅو له یوه اړخه پر اسلامي امارت فشار راوړي او له ننگونو سره یې مخ کړي او له بله اړخه هغه کسان له منځه یوسي چې دوی یې د خپلو موخو په لار کې خنډ بولي. بناءً اسلامي امارت باید درک کړي، چې غربي استعمار او سیمه‌ییز همکاران یې مختلفې خبرې لري؛ دښمن کله د پیسو د مرستو په بڼه راڅرگندېږي، کله د خیریه بنسټونو په بڼه، کله د مدني فعالیتونو، لاریونونو او مطبوعاتي فشارونو په بڼه، کله د سیاسي فشارونو او کله هم د مرموزو استخباراتي فعالیتونو او هدفي ترورونو په بڼه.

موږ پخوا هم په وار وار د دښمن دا ډول دسیسې افشا کړې او د ټولنې مشران مو ترې خبر کړي دي. نن هم دا حقیقت تکراروو چې غرب څو اړخه او پېچلې سیاست کوي؛ په ښکاره د بشري مرستو او بشري حقونو خبرې کوي، خو په عمل کې په افغانستان او سیمه کې د یو باثباته او ځواکمن دولت د رامنځه کېدو مخه نیسي. باید پوه شو چې یوازې له امت سره نږدیوالی او د شریعت بشپړ تطبیق کولی شي د داخلي فتنو مخه ونیسي، بهرنۍ دسیسې خنثا کړي، مجرمین مجازات کړي او د مسلمانانو ځاني او مالي امنیت خوندي کړي. د یو قوي اسلامي هویت رامنځته کول او د یوې باثباته ټولنې احیاء موږ ته دا وړتیا راکوي چې د خپل بهرني دښمن په مقابل کې د اوسپنیز دېوال په څېر ودرېږو او د هغوی د هر ډول کید او مکر پر وړاندې بریالي شو.

**د حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**